بسم الله الرحمن الرحيم

# د ۱۴۴۵هـ.ق (۲۰۲۴م) کال د کوچني اختر په مناسبت د حزب التحرير د امير، جليل القدر عالم، عطاء بن خليل أبو الرشتة لخوا د هغه د پاڼو ليدونکو ته پيغام

(ژباړه)

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وصحبه ومن والاه، وبعد:

اسلامي امت ته، چې د بشريت لپاره تر ټولو غوره امت دی:

**﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللهِ﴾**[آل عمران: ۱۱۰]

**ژباړه:** *«تاسو تر ټولو غوره امت يئ چې بشريت ته [د نمونې په توګه] پيدا شوي يئ؛ [ځکه] تاسو پر معروف امر کوئ او منکر منع کوئ او پر الله ايمان لرئ.»*

مخلصو دعوتګرو ته؛ موږ د الله تعالی پر وړاندې د هغه چا ستاينه نه کوو چې د خير خبرې او د کړنې کوي؛ الله سبحانه و تعالی پخپله د دغو صفتونو لرونکو په اړه فرمايي:

**﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾**
[فصلت:۳۳]

ژباړه: «او د خبرې په لحاظ له هغه چا څخه څوك ډېر ښه دی چې الله سبحانه وتعالی لوري ته بلنه کوي او نېك عمل کوي او وايي چې بېشکه زه له مسلمانانو څخه يم.»

د دغې پاڼې درنو ليدونکو چې په اخلاص او صداقت دا پاڼه څارئ او خير پکې لټوئ؛ جزاک الله خيراً!

تاسو ټولو ته د نېکمرغه کوچني اختر مبارکي وايم؛ طاعات او عبادات مو قبول شه. بېشکه چې الله سبحانه و تعالی پر صالحينو پام ساتي.

**درنو ورونو او خويندو:**

سږ کال اختر په داسې حال کې راځي چې وحشي یهودي دولت د غزې او ټول فلسطین د خلکو، ونو او ډبرو پر وړاندې جنایت کوي او دا هر څه د امریکا په ملاتړ کوي چې بمونه، راکټونه او الوتکې ورته برابروي. له یهودي دولت څخه لېرې نه ده چې د امریکا په ملاتړ دا ټول وحشتونه کوي؛ ځکه دوی د اسلام او مسلمانانو دښمنان دي؛ خبره دا ده چې د اسلامي، په ځانګړې توګه د فلسطین شاوخوا، خاورو یو حاکم هم نه رامخته کېږي چې د غزې، د غزې د خلکو، اقصی او د هغې د شاوخوا د ملاتړ لپاره خپل پوځونه بسیج کړي، د یهودي دولت جرړې وباسي او فلسطین یې بېرته خپلو خلکو ته ورکړي. ایا هغه اشغالګر چې د مسلمانانو خاوره یې اشغال کړه او خلک یې ترې وشړل؛ د دې وړ نه دی چې د مسلمانانو پوځونه ورسره وجنګېږي او له دغې خاورې یې داسې وشړي لکه مسلمانان یې چې ترې شړلي وو؟

**﴿وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ﴾** [بقره:۱۹۱]

**ژباړه:** *«له هغوی سره چې هر ځای مخ شوئ، وجنګیږئ او له هغه ځای څخه یې وباسئ چې تاسو یې ترې ایستلي یاست.»*

دغه حکام ولې پر دې نه پوهېږي!؟ دوی په خپله بدبختۍ کې ډوب دي؛ ځکه چې د کافرو استعمارګرو، په ځانګړي ډول امریکا، اطاعت کوي او د خپلو ماتو او کړو ځوکیو ساتلو لپاره د هغوی هره امر مني.

**﴿قَاتَلَهُمُ اللهُ أَنىَّ يُؤْفَكُون﴾** [منافقون:۴]

**ژباړه:** *«الله خو دې دوی ووهي، څه ډول له حق څخه اوړي!»*

**درنو ورڼو او خویندو:**

دغې جګړې دوې مهمې مسلې رابرسېره کړې:

**لومړی:** د یهودي دولت ضعف او ذلت؛ چې الله سبحانه و تعالی په خپل کتاب کې فرمايي:

**﴿ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوا إِلَّا بِحَبْلٍ مِنَ اللهِ وَحَبْلٍ مِنَ النَّاسِ﴾** [آل عمران: ۱۱۲]

**ژباړه:** *«دوی چې هر ځای پیدا شي، نو ذلت به پرې حاکم وي، خو دا چې (له خپلې ناوړه کړنلارې څخه لاس واخلي او په خپلو عملونو ته بیاکتنه وکړي) الله تعالی (د الله سبحانه وتعالی قوانین رعایت کړي) او خلکو ته پناه یوسي.»*

یهودو، د خپلو پیغمبرانو له وخت راهیسې له الله سبحانه وتعالی سره خپل عهد او امان مات کړی دی او یوازې د امریکا او اروپا او د هغوی د مزدورانو امان او ملاتړ ورته پاتې دی. دا ډول خلک د جګړې او بریا ظرفیت نه لري. د غزې پر خلکو د دوی د وحشیانه برید تر شپږو میاشتو زیات وخت کېږي خو تر اوسه خپلې موخې ته نه دي رسېدلي؛ سره له دې چې له یوې داسې ډلې سره جنګېږي چې په شمېر او تجهیزاتو کې تر دوی ډېره کوچنۍ ده.

**دوهم**؛ د اسلامي خاورو د حکامو خیانت. دغه حکام د روان وحشت تشه ننداره کوي. په دوی کې تر ټولو غوره هغه دي، چې یوازې شهیدان او ټپیان شمېري. دوی د غزې او د غزې د خلکو د ملاتړ لپاره خپل پوځونه بسیج نه کړل، لکه په دې اړه چې هیڅ اندېښنه نه لري! یا بې طرفه دي او یا دښمن ته نیږدې دي!

﴿**صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ**﴾ [بقره: ۱۸]

**ژباړه:** *«(هغوی) کاڼه دي، ګونګیان دي، ړانده دي؛ نو هغوی (سمې لارې) ته نه راګرځي.»*

دا دوې مسلې باید د مسلمانانو په پوځونو کې مخلصین او د واک څښتنان پورته کړي چې د فلسطین د اشغالګرو، یهودو پر وړاندې جګړه وکړي او هغه مکلفیت ادا کړي چې د الله سبحانه و تعالی له لوري ورباندې دی.

﴿**وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ إِنْ تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ وَتَرْجُونَ مِنَ اللهِ مَا لَا يَرْجُونَ**﴾ [نسأ:۱۰۴]

**ژباړه:** *«د دښمن په تعقیبولو کې سستي مه کوئ. که تاسو له کړاو سره مخ کیږئ، نو دوی هم له کړاو سره مخ کیږي، په داسې حال کې چې تاسو له الله سبحانه وتعالی څخه د هغه څه تمه لرئ، چې دوی یې نه لري.»*

نو تاسو دوی له مخې لرې کوئ، ځکه چې دوی د الله سبحانه و تعالی پر وړاندې د جګړې لپاره خورا ټیټ او کوچني دي؛ به دې توګه به د الله سبحانه و تعالی وعده تحقق ومومي.

﴿**فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيراً**﴾ [اسرا:۷]

**ژباړه:** *«بیا کله چې د دویمې وعدې وخت راغلی، نو موږ نور دښمنان پر تاسو مسلط کړل چې هغوی ستاسو څېرې غمجنې کړي او مسجد (الاقصی) ته ننوځي، لکه څنګه چې اول ځل ننوتلي وو او(یو ځل بیا د بیت االمقدس په ورانولو پیل وکړي) پر هر څه او هر شي چې د هغوی لاس بر شي تباه یې کړي.»*

نو په غزه کې د خپلو وروڼو او خویندو مرستې ته ور ودانګئ او که په اسلامي خاورو کې ظالم رژیمونه مو مخې ته ودرېدل، په هره لار یې له مخې لرې کړئ... او پر ځای یې د الله حاکمیت، د نبوت پر منهج راشده خلافت تاسیس کړئ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم زېری دی:

**«ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ تَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ، ثُمَّ سَكَتَ»**

**ژباړه:** *وروسته به د ظالمو حکامو حاکمیت راشي او هر کله چې الله (سبحانه وتعالی) وغواړي، هغه به له منځه یوسي او له هغه وروسته به د نبوت پر منهج خلافت راشي او له هغه وروسته بیا چوپ شو.* [مسند احمد]

بیا به خلیفه، مرستیالان یې او له لوړې تر ټیټې رتبې د اسلام سرتېري یوه په بله پسې فتحې کوي، د «الله اکبر» ناره به کوي او امت به یې ورپسې بدرګه کوي؛ د الله سبحانه و تعالی په نصرت به پیاوړي او په خپل دین ویاړلي وي او هیڅ کوم دښمن به دا جرات ونه شي کړی چې د مسلمانانو خاوره غصب او اشغال کړي.

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾** [روم: ۴-۵]

**ژباړه:** *«په هغه ورځ به یوازې مومنان خوشالېږي. (هو، خوشالیږي به) د الله سبحانه وتعالی په نصرت باندې. الله تعالی چې هرچا ته و غواړي، نصرت یې کوي. هغه عزیز او مهربانه ذات دی.»*

او په پای کې؛ وروڼو او خویندو! کوچنی اختر مو مبارک شه. الله سبحانه و تعالی خو دې وکړي چې موږ د رمضان مبارکې میاشتې روژه، قیام او لمونځونه په داسې بڼه کړي وي چې الله سبحانه و تعالی او رسول الله سبحانه و تعالی پرې راضي کېږي. الله سبحانه و تعالی خو دې وکړي چې دا اختر د اسلام او مسلمانانو لپاره د خیر، برکت او سرلوړۍ پیلامه شي.

**﴿وَاللهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾** [یوسف:۲۱]

**ژباړه:** *«او الله پر خپلو چارو برلاسی دی؛ خو ډېری خلك نه پوهېږي».*

والسلام عليكم و رحمة الله و بركاته

**ستاسو ورو**

**عطاء بن خليل أبو الرشتة**

**۱۴۴۵هـ.ق کال د شوال ۱**

**۲۰۲۴م کال د اپریل ۱۰مه**